د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

پنجشنبه ۲۱ شعبان، ۱۴۴۶هـ — ۲۰۲۵/۰۲/۲۰م — گڼه: ح.ت.افغ ۱۱/۱۴۴۶

مطبوعاتي اعلامیه

## د ویانا ناسته او د ډیموکراتیک بدلون سراب؛ د ژغورنې یوازینۍ لاره د راشده خلافت تاسیس دی

د «د ویانا بهیر» پنځمه ناسته د ځینو سیاسي څېرو، مدني فعالانو او د حاکم نظام مخالفو پخوانیو نظامي چارواکو په ګډون د اتریش په پلازمېنه، ویانا کې وشوه. دا ناسته په داسې حال کې وشوه چې اسلامي نړۍ د خپل تاریخ په یوه تر ټولو تیاره دوره کې ده او مسلمانان د ملي دولتونو په چوکاټ کې بندیان شوي دي. خو د سیکولر، ډیموکراتیکو او قومي مفکورو پر بنسټ له حکامو سره مخالفت او جنګېدل د اسلامي شریعت خلاف او د مسلمانانو ترمنځ د فتنې عامل دی. اسلام خپل حکومتي نظام د اسلامي عقیدې پر بنسټ جوړوي او ټول سیاستونه، قوانین او سیاسي او نظامي مبارزه باید له همغې سرچینه واخلي. برعکس، د ویانا بهیر د سیکولر او ملي‌پاله ارزښتونو پر بنسټ را منځ ته شوی چې نه یوازې غیر شرعي دی، بلکې یوه ناکامه هم تجربه ده.

ډیموکراسي او جمهوریت پردي او د افغانستان د ټولنې د باورونو مخالف ارزښتونه دي. د افغانستان متدینو خلکو د اسلامي ارزښتونو د حاکمیت لپاره ډېرې قرباني ورکړې دي. د غربي سیاسي موډلونو پلي کول، نه یوازې دا چې له اسلام سره په ټکر کې دي، بلکې د افغانستان د خلکو د غوښتنو خلاف دي. د ویانا ناستې ګډونوال د اسلامي امت د وحدت او عزت لپاره د هڅو پر ځای، د داسې غربي جوړښتونو د رامنځته کولو په لټه کې دي چې په تېرو ۲۰ کلونو کې د فساد، جګړې او تفرقې لامل شوي وو.

اسلامي امت باید د خپل عزت او اقتدار د بیا راژوندي کولو لپاره له غربي استعمار سره له هر ډول فکري، سیاسي او نظامي تړاو څخه خلاص شي. څوک چې د غرب د ملاتړ لپاره زارۍ او تضرع کوي، څنګه امت ته عزت ورکولی شي؟ څنګه د افغانستان د خلکو په ژوند کې اساسي بدلون راوستلی شي؟ په داسې حال کې چې د افغانستان په اوسني وضعیت کې د ویانا بهیر ګډونوالو فعاله او ښکارنده ونډه لرلې ده.

د یادولو ده چې د افغانستان د حکومت او د دغه حکومت د مخالفینو او موافقینو په ګډون ټول ښکېل اړخونه باید پوه شي چې اسلامي امت د انحطاط په دغه دور کې ټولې غربي او شرقي نسخې تجربه کړې دي، خو ستونزه یې نه ده حل شوې؛ یوازې له یوه ناورین څخه بل ته ور ټېلوهل شوي دي. په حقیقت کې، افغانستان او ټوله اسلامي نړۍ د ملي دولتونو او سیکولر اتحادونو له لارې نه شي ژغورل کېدی، بلکې یوازې د اسلام په بیا راتګ، د راشده خلافت په تاسیس او د الله سبحانه و تعالی د دین په اظهار او اقامې سره ژغورل کېدی شي. ځکه چې د سیاسي فلاح یوازینۍ لار له الله سبحانه‌وتعالی سره پر میثاق د امت پابندي او د راشده خلافت تاسیس دی؛ چې یوازینۍ برخلیک ټاکونکې قضیه او د اسلامي حکومتولۍ یوازینۍ موډل دی. له دې پرته بله هره لار د تېرو ناکامو تجربو تکرار او د سیاسي سرابونو پیروي ده چې یوازینۍ پایله یې په دنیا کې ذلت او په اخرت کې زیان او خسران دی.

﴿الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَيَبْتَغُونَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا﴾ (النساء: ۱۳۹)

ژباړه: *«هغه کسان چې د مومنانو پر ځای له کافرانو سره دوستي کوي، ایا له کافرانو سره عزت او قدرت لټوي؟ په داسې حال کې چې ټول عزت او قدرت یوازې له الله سبحانه‌وتعالی سره دی.»*

**د حزب‌التحریر- ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**